Afghanistan Revenue Department

ARD

د ماليې وزارت

د عوايدو او گمرکونو معينيت

د عوايدو لوی رياست

# د افغانستان د مالياتو لارښود




زموږ ماليه، زموږ هيواد، زموږ راتلونکی

ماليه ما، کشور ما، آينده ما

**Our Tax, Our Country, Our Future**

# ســـــــــريزه

**بسم الله الرحمن الرحيم**

الحمد لله رب العالـمين وصلاته على سيدنا محمد وعلى آله وأصحابه أجمعين

امابعد:

ماليات چې د افغانستان اسلامي امارت د ملي بودیجې په تمویل کې ډېر رول لري، د سیستم له لارې ئې په مرکز او ولایتونو کې په شفاف ډول راټولول د عوایدو د لوی ریاست دنده او مسؤلیت دئ. د عوایدو لوی ریاست دا چاره په مرکز کې د مرکزي عملیاتي ریاستونو او په ولایتونو کې د مستوفیتونو د عوایدو د آمریتونو په وسیله تر سره کوي، چې لله الحمد د اسلامي امارت له فتحې څخه بیا تر اوسه پورې په ښه ډول عواید راټولېږي او ملي بودیجه په تمویلېږي.

د عوایدو لوی ریاست د خپل کاري مسئولیت پر اساس تل هڅه کوي، چې د مالیاتي عوایدو د ښه ټولېدو په موخه د مالیاتي اداري کارمندانو او مالیه ورکوونکو ته د مالیاتو په اړه پوره پوهاوی ورکړي، چې په دې برخه کې ئې بېلا بېل مسلکي او د عامه پوهاوي سمینارونه دایر کړي دي او لا هم د دایرېدو په درشل کې دي. همدارنګه د عوایدو لوی ریاست د عامه پوهاوي له پاره بېلابېل چاپي مواد چاپوي. (د افغانستان د مالیاتو لارښود) چې د مالیاتي اداري کارکوونکي او مالیه ورکوونکي د مالیاتو په اړه پوهوي، د مالیاتو د بیانولو په برخه کې یوه غوره بېلګه ده.

په دې کتاب (د افغانستان د مالیاتو لارښود) کې د عوایدو لوی ریاست له لوري پنځه ډوله مالیې چې د مالیه ورکونکو حالاتو او فعالیتونو ته په کتو سره اخستل کیږي، په مکمل ډول بیان سوي دي. د ټولو مالیو نورمونه او د اخستلو طریقې په کښې بیان سوي او په مثالونو کې واضح سوي دي، تر څو د مالیاتي اداري کارمندان او مالیه ورکونکي په پوه سي او هم د اړتیا په صورت کې استفاده ځنې وکړي.

هیله ده! که چیرې د مالیاتي اداري کارکونکي او مالیه ورکونکي د مالیاتو په اړه ستونزه او یا هم پوښتنه ولري؛ نو د مهربانۍ له مخې دې د عوایدو لوی ریاست اړوند د عوایدو د حقوقي خدمتونو او پالیسۍ ریاست د قانون د لارښووني آمریت سره خپله ستونزه په کتبي ډول شریکه کړي او له یادي اداري څخه دې په کتبي ډول جواب ترلاسه کړي.

**په درنښــت**

**د عــوايدو لــوی ريــاست**

# د مالیاتي تحویلۍ د مرحلو طی کول

لکه څرنګه چي تاسي پوهېږئ، په افغانستان کي د مالیاتو سنجش او تحویلي د اظهارخودي سیستم پر اساس دي، چي له مخي ئې د ذکر سوي سیستم مطابق مالیه ورکوونکي په خپله خپل عواید او لګښتونه د مالیاتي اصولو سره سم سنجوي او خپلي مالیاتي ذمه وارۍ په اظهارنامه کي ثبتوي او د امارتي عوایدو اړوند حساب ته ئې تحویلوي. په مالیاتي اداره کي وروسته له دې چي مالیه ورکوونکی خپله اظهارنامه وړاندي کوي او سنجول سوې مالیه تحویلوي، د مالیه ورکوونکي د مالیې د سنجولو او د مالیاتي وجیبو د نهایي تصفیې د لاسته راوړلو له پاره لاندي مرحلې په نظر کي نیول سوي دي.

| د مالیاتي تحویلۍ د مراحلو طی کول | اړوندي برخي |
| --- | --- |
| 1- د مالیه ورکوونکي له خوا د لګښتونو او عوایدو سنجول، د مالیې تعینول، د مالیاتي اظهارنامې وړاندي کول او د ځان له خوا څخه مالیه تحویلول؛<br>2- د دوسیې مسؤل، د مالیه ورکوونکي له خوا وړاندي سوې مالیاتي اظهارنامه د محاسبې په لحاظ ارزوي؛<br>3- مالیه ورکوونکی هغه وخت د مالیاتي ابتدائیه تصفیې د تصدیق نامې مستحق ګڼل کېږي، چي د مالیاتي اصولو له مخي ئې خپله مالیاتي ذمه واري د غوښتنلیک د وړاندي کولو له نېټي څخه د مخه تصفیه کړې وي؛<br>یادوونه: د مالیاتو د ابتدائیه تصفیې تصدیق نامه صادرول، د مالیاتي مسؤلیت د بشپړ رفع کولو له پاره نه ده، بلکي مالیه ورکوونکي ته د فعالیت د جواز نوي کولو له پاره ده؛ | د خدمتونو وړاندي کوونکو د ابتدائیه سنجش برخه |
| 4- د مالیه ورکوونکي وړاندي سوې مالیاتي اظهارنامه، د عوایدو د سیستم له لاري د ټاکلو معیارونو په نظر کي نیولو سره تحلیل او ارزول کېږي؛<br>5- د عوایدو د سیستم له لاري د نومرو ورکولو په نظر کي نیولو سره، د ضرورت په وخت کي د مالیه ورکوونکي مالیاتي اظهارنامه و بررسۍ ته وړاندي کېږي؛ | د تحلیل خطر برخه |
| 6- د مالیه ورکوونکي د اسنادو د بررسي له پاره د بررسۍ تیم ټاکل کېږي؛<br>7- د بررسۍ د شروع کولو له پاره مالیه ورکوونکي ته کتبي (لیکلي) اطلاعیه صادرېږي؛<br>8- د بررسۍ د پروسي له بشپړېدلو وروسته، د بررسۍ د تیم له خوا مالیه ورکوونکي ته د تعدیل سوي مالیې د ټاکلو یادداښت صادرېږي؛ | د بررسۍ برخه |

| د مالیاتي تحویلی د مراحلو طی کول | اړوندي برخي |
| --- | --- |
| یادوونه: که چیري مالیه ورکوونکی د صادر سوي ټاکلي مالیې له یادداښت سره قناعت ونه لري، نو کولای سي چي خپل غوښتنلیک وړاندي کړي؛ | د بررسی برخه |
| 9- هر کله چي مالیه ورکوونکی د بررسی له خوا د اعلان سوي مالیاتي پرېکړې سره قناعت ونه لري، کولای سي چي د مالیاتي پرېکړي د اطلاعیې د خپرېدو له نېټي څخه وروسته په 45 ورځو کي خپل غوښتنلیک د دلایلو په ذکر کولو سره په منظور سوي فورم کي د مالیه ورکوونکو د شکایتونو اورېدلو ریاست ته وړاندي کړي؛<br>10- د ٪30 سلنه ټاکل سوي مالیې له تحویلی وروسته د مالیه ورکوونکي غوښتني ته رسیده ګي صورت نیسي؛<br>11- د مالیه ورکوونکو د شکایتونو اورېدلو ریاست پرېکړه، د اعتراض تر غور او ارزوني وروسته مالیه ورکوونکي ته رسېږي؛<br>یادوونه: د مالیه ورکوونکو د شکایتونو اورېدلو ریاست د پرېکړي پلي کول، پر ټولو مالیاتي ادارو باندي لازمي دئ؛<br>نوټ: په هغه صورت کي چي مالیه ورکوونکی د شکایتونو اورېدلو ریاست له پرېکړې سره قناعت ونه لري او یا د غوښتني وړاندي کولو له نېټي څخه وروسته په 90 ورځو کي د شکایتونو اورېدلو ریاست پرېکړه ترلاسه نه کړي، نو کولای سي چي په 30 ورځو کي د مالیاتي شخړو حل بورډ ته د بیاکتني غوښتنه وړاندي کړي؛ | د مالیه ورکوونکو د شکایتونو د اورېدلو برخه |
| 12- د مالیه ورکوونکي د بیاکتني غوښتني پر اساس، د مالیاتي شخړو حل بورډ خپله پرېکړه صادروي؛<br>یادوونه: په هغه صورت کي چي طرفین ( مالیه ورکوونکی او مالیاتي اداره) د مالیاتي شخړو حل بورډ له پرېکړې سره قناعت ونه لري، کولای سي چي د مالیاتي شخړو حل بورډ د پرېکړي وړاندي کولو له نېټي څخه وروسته  په 30 ورځو کي صلاحیت لرونکي محکمې ته مراجعه وکړي؛ | د مالیاتي شخړو د حل بورډ |
| 13- مالیاتي محکمه د طرفینو ( مالیه ورکوونکی او مالیاتي اداره) غوښتنو ته رسیده ګي کوي او  نهایي پرېکړه صادروي؛<br>یادوونه: طرفین (مالیه ورکوونکی او مالیاتي اداره) مکلف دي، چي د محکمې نهایي پرېکړه پلي کړي. | مالیاتي محکمه |



# پر انتفاعي معاملاتو باندي ماليه

**پر انتفاعي معاملاتو باندي ماليه:** له هغي ماليي څخه عبارت ده، چي په هره ربعه کي د اشخاصو د ناخالصو عوایدو (فروشاتو) له مجموعي څخه د هر ډول کسراتو تر وضع کولو مخکي اخیستل کیږي او د کال په آخر کي ئي پر عایداتو باندي د مالیاتو په اظهارپانه کي د لګښت په حیث مجرایي ورکول کیږي.

پر انتفاعي معاملاتو باندي د ماليي نورمونه د ماليه ورکوونکو د فعالیتونو نوعیت ته په کتو سره توپیر لري چي په لاندي جدول کي ځای پر ځای سوي دي.

**یادونه:** د جدول په 1 او 2 شمېرو کي درج سوي ماليي د ربعواره انتفاعي ماليي مخکي ورکړه (پیش پرداخت) ګڼل کیږي، چي د هم هغه کال په انتفاعي ماليه کي د مجرایي وړ ده.

| شمېره | تشـــریح | د ماليي نورم | د ورکړي موده |
|---|---|---|---|
| 1 | په عمومي ډول د اکثرو سکتورونو د اقتصادي فعالیتونو له پاره د ګمرکي محصول په شمول د وارداتي اموالو له تمام سوي قیمت څخه؛ | 4% | د واردولو پر مهال |
| 2 | د صنعتي سکتور د وارداتي اموالو د ګمرکي محصول په شمول له تمام سوي قیمت څخه؛ | 2% | د واردولو پر مهال |



## پر انتفاعي معاملاتو باندي ماليه

| د ورکړې موده | د ماليي نورم | تشـــريح | شميره |
|---|---|---|---|
| ربعوار | 4% | په عمومي ډول د اکثرو سکتورونو د اقتصادي فعاليتونو له ناخالصو عوايدو څخه؛ | 3 |
| ربعوار | 10% | د مخابراتي شرکتونو او هغو هوټلونو له ناخالصو عوايدو څخه، چي لوړ خدمتونه وړاندي کوي؛ | 4 |
| ربعوار | 5% | د هوايي ټرانسپورټي شرکتونو او د ودونو د محفل جوړولو تالارونو له ناخالصو عوايدو څخه؛ | 5 |
| ربعوار | 4% | حقيقي اشخاص چي په هره ربع کي 750,000 افغانۍ او يا هم تر دي ډېر ناخالص عوايد ولري؛ | 6 |
| ربعوار | 3% | د صحي سکټور ناخالص عوايد؛ | 7 |
| ربعوار | 2% | د تعليمي او تحصيلي سکټور، صنعتي سکټور، عادي هوټلونو، ميلمستونونو، رسټورانټونو او ډوډۍ پخولو مرکزونو له ناخالصو عوايدو څخه. | 8 |

**نـــوټ:** له 1445/04/07 نېټي څخه وروسته هغه صحي مرکزونه چي نوي فعاله سوي وي، اول کال ئې انتفاعي ماليه معاف ده او دوهم کال ئې انتفاعي ماليه د **2%** تابع ګرځي.
د تعليمي او تحصيلي سکټور **2%** انتفاعي ماليه له 1446/04/23 څخه د اجراء وړ ده.




## لومړی مثال

د الف مخابراتي شرکت د 1402 کال په لومړی ربع (وري، غويي او غـــبرگولي) کي 150,000,000 افغانۍ فروشات لري، د نوموړي شرکت د لومړی ربعي انتفاعي ماليه په لاندي ډول سنجول کيږي:
150,000,000x10%= 15,000,000

**تبصره:** د مخابراتي شرکتونو د ربعواره انتفاعي ماليې نورم 10% دئ، پر همدي بنسټ د ناخالصو عوايدو مجموعه په 10% کي ضرب سوي ده، ياد شرکت د 1402 کال په لومړی ربع کي د 15,000,000 افغانيو انتفاعي ماليې پر ورکړه مکلف دئ.

## دوهم مـثال

د الف د ودونو تالار د 1402 کال په لومړی ربع کي 1,000,000 افغانۍ ناخالص عوايد لاسته راوړي دي، چي د ياد تالار د لومړی ربعي انتفاعي ماليه په لاندي ډول سنجول کيږي:
1,000,000x5%=50,000

**تبصره:** د ودونو محفل جوړولو تالارونو د انتفاعي ماليې نورم 5% دئ، پر همدې بنسټ د ناخالصو عوایدو مجـــموعه په 5% کې ضرب سوې ده؛ چې یاد د ودونو محفل جوړولو تالار د 1402 کال د لومړۍ ربعې د عوایدو له درکه د 50,000 افغانیو انتفاعي ماليې پر ورکړه مکلف دئ.

## درېیم مثال

د احمدي ځمکني ټرانسپورټي شرکت د 1402 کال په دوهمه ربعه (چنګاښ، زمري او وږي) کې 10,000,000 افغانۍ ناخالص عواید لاسته راوړي دي؛ چې د دغه شرکت د دوهمي ربعي انتفاعي ماليه په لاندي ډول سنجول کيږي:

10,000,000x4%=400,000

**تبصره:** د ځمکني ټرانسپورټي شرکتونو د انتفاعي ماليې نورم 4% دئ، چې د ناخالصـــو عوایدو مجموعه ئې په 4% کې ضرب سوې ده، یاد شرکت د 1402 کال د دوهمي ربعي د عوایدو له درکه د 400,000 افغانیو د انتفاعي ماليې پر ورکړه مکلف دئ.

## ځلورم مثال

د سعدي رستورانټ چې یو عادي رستورانټ دئ، د 1403 کال په درېیمه ربع (تله، لړم او لېندۍ) کې ئې 400,000 افغانۍ ناخالص عواید لاسته راوړي دي؛ چې د درېیمي ربعي د انتفاعي ماليې سنجش ئې په لاندي ډول دئ.

400,000x2%=8,000

**تبصره:** د عادي رستورانټونو د انتفاعي ماليې نورم 2% دئ، نو د ناخالصو عوایدو مجموعه ئې په 2% کې ضرب سوې ده او یاد رســـتورانټ د 1402 مالي کال د درېیـــمي ربعـي له درکه د 8,000 افغانیو انتفاعي ماليې پر ورکړه مکلف دئ.

## پنځم مثال

احمد خیل یو باب حویلي (الف) شرکت ته د میاشتني په 280,000 افغانۍ په کرایه ورکړې ده، دا چې د احمد د یوې ربعي د کرایوي عوایدو مبلغ 840,000 افغانۍ کيږي او یاد مبلغ له 750,000 افغانیو څخه زیات دئ، نو بناءً احمد د انتفاعي ماليې تابع کيږي، چې د ده ربعواره انتفاعي ماليه په لاندي ډول سنجول کيږي.

840,000 x 4% = 33,600

احمد مکلف دئ چې خپله 33,600 افغانۍ انتفاعي ماليه په ربعوار ډول تحویل کړي.

**يادونه:** هغه اشخاص، چي د انتفاعي معاملو د ربعواري ماليې پر ورکړه مکلف دي، خپلي مالياتي اظهارپاڼي دي په هره ربع کي ډکي کړي او د ورکړي وړ ماليه دي له مربوطه ربعي څخه وروسته د راتلونکي مياشتي تر پنځلسمي نېټي پوري تحويل کړي.

# ثابته ماليه

ثابته ماليه: د هغي ماليې څخه عبارت ده، چي پر عايداتو باندي د ماليات او د انتفاعي ماليې پر ځای وضع کيږي.

د اصنافو، عراده جاتو، 7% قراردادي او د نمايشونو ثابتي ماليې د ماليه ورکوونکو نهايي ماليه ده او هغه 2% ثابته ماليه، چي د اجناسو د واردولو پر مهال په محصولي گمرک کي د گمرکي محصول په شمول د تمام سوي قيمت څخه اخيستل کيږي، د ماليه ورکوونکو پر کلنيو عايداتو باندي د مالياتو مخکي ورکړه حسابيږي.

<table>
<tr><th>شمېره</th><th>د ثابتي ماليې ډول</th><th>د ثابتي ماليې نورم</th><th>د عملي کېدو ساحه</th><th colspan="3">تــشريـحات</th></tr>
<tr><td>1</td><td>د وارداتو ثابته ماليه</td><td>2%</td><td>په محصولي گمرک کي د اموالو د واردولو پر وخت اخيستل کيږي.</td><td colspan="3">هغه شخص چي اموال را واردوي، د گمرکي محصول په شمول د وارد سوو اجناسو د تمام سوي قيمت د 2% ثابتي ماليې تابع دئ، چي دغه ماليه د هغه پر عايداتو باندي د مالياتو مخکي ورکړه حسابيږي او د شخص په وروستي مالياتي مکلفيتونو کي د مجرايي وړ ده.</td></tr>
<tr><td rowspan="17">2</td><td rowspan="17">د عراده جاتو ثابته ماليه</td><td rowspan="17">1. باروړونکي عراده جات د ټن پر بنسټ</td><td rowspan="17">د عراده جاتو د جواز سير د تمديد په وخت کي.</td><td>شمېره</td><td>د عرادې ډول</td><td>ماليه</td></tr>
<tr><td>1</td><td colspan="2">د ټن بنسټ عراده جات</td></tr>
<tr><td>1</td><td>له 1 څخه تر 2 ټنو پوري</td><td>2600 افغانۍ</td></tr>
<tr><td>2</td><td>له 2 څخه تر 3 ټنو پوري</td><td>3400 افغانۍ</td></tr>
<tr><td>3</td><td>له 3 څخه تر 4 ټنو پوري</td><td>4200 افغانۍ</td></tr>
<tr><td>4</td><td>له 4 څخه تر 5 ټنو پوري</td><td>5000 افغانۍ</td></tr>
<tr><td>5</td><td>له 5 څخه تر 6 ټنو پوري</td><td>6000افغانۍ</td></tr>
<tr><td>6</td><td>له 6 څخه تر 8 ټنو پوري</td><td>7500 افغانۍ</td></tr>
<tr><td>7</td><td>له 8 څخه تر 10 ټنو پوري</td><td>9000 افغانۍ</td></tr>
<tr><td>8</td><td>له 10 څخه تر 12 ټنو پوري</td><td>10500 افغانۍ</td></tr>
<tr><td>9</td><td>له 12 څخه تر 14 ټنو پوري</td><td>12000 افغانۍ</td></tr>
<tr><td>10</td><td>له 14 څخه تر 16 ټنو پوري</td><td>13500 افغانۍ</td></tr>
<tr><td>11</td><td>له 16 څخه تر 18 ټنو پوري</td><td>15000 افغانۍ</td></tr>
<tr><td>12</td><td>له 18 څخه تر 20 ټنو پوري</td><td>16500 افغانۍ</td></tr>
<tr><td>13</td><td>له 20 څخه تر 25 ټنو پوري</td><td>18500 افغانۍ</td></tr>
<tr><td>14</td><td>له 25 ټنو څخه زيات</td><td>پر 18500 افغانيو سربېره يو ټن 500 افغانۍ</td></tr>
<tr><td>15</td><td>د ټېلر د اکسل د پاسه د مجاز وزن له مجموعي څخه زيات</td><td>له 500 کېلو گرامه څخه اضافه يو ټن 200 افغانۍ</td></tr>
</table>



# ثابته مالیه

## ادامه...

| شمېره | د ثابتې مالیې ډول | د ثابتې مالیې نورم | د عملي کېدو ساحه | تشریحات |
|---|---|---|---|---|
| | د عراده جاتو ثابته مالیه | 2. مسافر وړونکي عراده جات د ظرفیت پر بنسټ. | د عراده جاتو د جواز سیر د تمدید په وخت کې. | (لاندې جدول) |

| شمېره | د عرادې ډول | مالیه |
|---|---|---|
| 2 | مسافر وړونکي عراده جات | |
| 1 | له 3 څخه تر 5 تنو پورې ظرفیت لرونکې ټکسي | 2000 افغانۍ |
| 2 | د 5 تنو له ظرفیت پورته ټکسي | پر 2000 افغانیو سربېره یوه چوکۍ 200 افغانۍ |
| 3 | 14 چوکۍ لرونکی مکروبس | 2600 افغانۍ |
| 4 | له 15 څخه تر 21 پورې چوکۍ لرونکی هر ډول بس | 4000افغانۍ |
| 5 | هغه بسونه چې له 22 څخه تر 29 پورې چوکۍ لري | 6000 افغانۍ |
| 6 | هغه بسونه چې له 30 څخه تر 39 پورې چوکۍ لري | 7000 افغانۍ |
| 7 | هغه بسونه چې له 40 څخه تر 49 پورې چوکۍ لري | 7500 افغانۍ |
| 8 | هغه بسونه چې له 50 څخه تر 60 پورې چوکۍ لري | 8000 افغانۍ |
| 9 | هغه بسونه چې له 60 څخه زیاتې چوکۍ لري | پر 8000 افغانیو سربېره یوه چوکۍ 200 افغانۍ |

| شمېره | د ثابتې مالیې ډول | د ثابتې مالیې نورم | د عملي کېدو ساحه | توضیحات |
|---|---|---|---|---|
| | د عراده جاتو ثابته مالیه | 3. د سلنډر پر بنسټ عراده جات. | د عراده جاتو د جواز سیر د تمدید په وخت کې. | (لاندې جدول) |
| | د عراده جاتو ثابته مالیه | 4. ریکشا او موټر سایکل د في عرادې پر بنسټ. | د عراده جاتو د جواز سیر د تمدید په وخت کې. | (لاندې جدول) |

| شمېره | د عرادې ډول | مالیه |
|---|---|---|
| 3 | د سلنډر پر بنسټ عراده جات | |
| 1 | 4 سلنډره | یوه عراده 1500 افغانۍ |
| 2 | 6 سلنډره | یوه عراده 2000 افغانۍ |
| 3 | 8 سلنډره | یوه عراده 3000 افغانۍ |
| 4 | له 8 سلنډرو څخه زیات | پر 3000 افغانیو سربېره یو سلنډر 500 افغانۍ |
| 4 | ریکشا | |
| 1 | د موټر سایکل ریکشا | یوه عراده 500 افغانۍ |
| 2 | ریکشا | یوه عراده 1000 افغانۍ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 3 | د نمایشونو ثابته مالیه | د ټکټ د فروشاتو له سر جمع 10% څخه | د نمایشونو، سپورټي او تفریحي پروګرامونو د جوړولو ځای. | هغه حقیقي اشخاص، چي په افغانستان کي مقیم وي او هغه حقیقي او حکمي اشخاص چي په افغانستان کي مقیم نه وي تفریحي پروګرامونه جوړوي مکلف دي، چي د نمایشونو د ټکټ د فروشاتو له سر جمع څخه یاده مالیه ورکړي. |
| 4 | د کوچنیو تشبثاتو (اصنافو) ثابته مالیه | 0,3% | کوچني اقتصادي فعالیتونه. | هغه حقیقي اشخاص، چي په کوچنیو اقتصادي فعالیتونو بوخت دي، د کلنیو فروشاتو له سرجمع څخه ئي د 2,000,000 افغانیو معافیت له وضع کولو وروسته د دې مالیې پر ورکړه مکلف دي. یاد اشخاص مکلف دي، چي د خپل ذمت مالیه د هرو درو میاشتو په ترڅ کي د راتلونکي میاشتي تر پنځلسمي نېټې پوري د کال تر هري ربعې وروسته تادیه کړي او یا هم کولای سي، چي هغه په یوه وار تحویل کړي. |

## لومړی مثال

احمد د هرات په ښار کي په یوه سپورټي سټډیوم کي سپورټي سیالۍ جوړي کړي دي؛ چي پر نندارچیانو باندي ئې د ټکټ خرڅولو له درکه 800,000 افغانۍ عواید لاس ته راوړي دي، چي ثابته مالیه ئې په لاندي ډول سنجول کیږي:

800,000x10%=80,000

**تبصره:** احمد مکلف دئ چي د داسي سیالیو یاده مالیه په هغه صورت کي چي دوامداره نه وي د سیالۍ په پای کي او که دوامداره وي د راتلونکي میاشتي تر پنځلسمي نېټې پوري ئې د امارت د عوایدو بانکي حساب ته تحویل کړي.

## دوهم مثال

روح الله د کابل په ښهرنو کي بوټ پلورنځی لري. نوموړي په 1403 کال کي په اوسط ډول د ورځي 10,000 افغانۍ فروشات لري. د روح الله بوټ پلورنځی د یاد کال مالیه په لاندي ډول سنجول کیږي:

ورځني فروشات = 10,000 افغانۍ

مالي کال = 300 کاري ورځي

ورځني فروشات ضرب 300 کاري ورځي مساوي کیږي د کلنیو فروشاتو په مجموعي سره.

10,000x300=3,000,000

د روح الله د بوټ پلورنځی ناخالص عواید 3,000,000 افغانۍ کیږي، چي 2,000,000 افغانۍ کلنۍ معافیت ورڅخه وضع کوو. 3,000,000-2,000,000=1,000,000

1,000,000× 0,3%=3,000



د روح الله د بوټ پلورنځی کلنۍ ثابته د تاديې وړ ماليه په 1403 کال کې 3,000 افغانۍ کيږي.

**تبصره:** په هغه صورت کي چي د اصنافو ناخالص عوايد د يوه کال په جريان کي دوه ميليونه او يا تر دوو ميليونو افغانيو کم تثبيت سي د صنفي ماليي تابع نه کيږي.

## د منقولو او غير منقولو اموالو د خرڅ يا انتقال ماليه

حقيقي او حکمي اشخاص د خپلو منقولو او غير منقولو اموالو د خرڅ په وخت کي د انتقال د 1% ماليي پر ورکړه مکلف دي. دغه ماليه د هغو حقيقي اشخاصو له پاره، چي خپل منقول او غير منقول اموال له تجارتي پروسي څخه بهر خرڅوي، پر عايداتو باندي ئې د ماليا‌تو په عوض کي حسابيږي. هغه حکمي او حقيقي اشخاص؛ چي د تجارتي فعاليت په موخه منقول او غير منقول اموال خرڅوي، ياده يو سلنه ماليه د هغو له پاره پر عايداتو باندي د ماليا‌تو مخکي ورکړه حسابيږي او د کلنيو عايداتو په ماليا‌تو کي ئې د مجرايي وړ ده.

مثال : ويس الدين خپل يوه عراده 2011 ماډل کرولا موټر د (ب) موټرپلورنځي له لاري په 480,000 افغانيو پر محمد سيد خرڅ کړی دئ، د يادي معاملي د انتقال يو سلنه ماليه په لاندي ډول سنجول کيږي:

د موټر د خرڅلاو له درکه تر لاسه سوي عوايد = 480,000

د انتقال يو سلنه ماليه مساوي کيږي: د خرڅ مبلغ ضرب يو فيصد

480,000 × 1% =4,800

د انتقال يو سلنه ماليه 4,800 افغانۍ کيږي؛ چي خرڅوونکی ئې پر ورکړه مکلف دئ.



# پر عایداتو باندي مالیه (د خالصي ګټې مالیه)

**پر عایداتو باندي مالیه:** له هغه ماليې څخه عبارت ده چې د حقیقي او حکمي اشخاصو له خالصي کلنۍ ګټې څخه اخیستل کیږي، چې نورمونه ئې په لاندي ډول دي.

**1. حکمي شخص:** د حکمي شخص پر کلنیو عایداتو باندي مالیه د اسناداو پر بنسټ د لګښتونو له مجرایي ورکولو څخه وروسته له خالصي ګټې څخه 20% اخیستل کیږي.

**2. حقیقي (انفرادي) شخص:** د حقیقي شخص پر عایداتو باندي مالیه د اسناداو پر بنسټ د لګښتونو او معافیت له مجرایي څخه وروسته د 2%، 10% او 20% نورمونو مطابق اخیستل کیږي.

| د حقیقي شخص پر کلنیو عایداتو باندي د مالیاتو نورمونه | | | | |
|---|---|---|---|---|
| حقیقي شخص | | | | |
| په مالي کال کې د ماليې تابع عواید | | د ماليې تابع مبلغ | د ماليې نورم | د ماليې مبلغ |
| له | تر | | | |
| 0 | 60,000 | 60,000 | 0 % | 0 |
| 60,001 | 150,000 | 90,000 | 2 % | 1,800 |
| 150,001 | 1,200,000 | 1,050,000 | پر (1800) ثابتو افغانیو سربېره 10% | 106,800 |
| له 1,200,000 څخه لوړ | | | پر (106,800) ثابتو افغانیو سربېره 20 % | |

# اول مثال

زبیر رهنمايي معاملات چي یو حقیقي شخص دئ د 1402 کال په جریان کي ئي د معاملو د اجراء له درکه 1,700,000 افغانۍ ناخالص عواید لاسته راوړي دي، د اسنادو پر بنسټ د لګښتونو له مجرایي وروسته پر عایداتو باندي ئي مالیه په لاندي ډول سنجول کیږي.



| د معاملو د اجراء له درکه کلني ناخالص عواید | |
|---|---|
| د جایدادونو د کرایوي معاملې د عقد له درکه | 1,100,000 |
| د جایدادونو د خرڅلاو د معاملې د عقد له درکه | 600,000 |
| **د کلني ناخالصو عوایدو مجموعه** | **1,700,000** |
| **د مثبته اسنادو پر بنسټ د مجرایي وړ کلني لګښتونه** | |
| ورکول سوي کرایه | 120,000 |
| ورکول سوی معاش | 120,000 |
| د قرطاسیې لګښتونه | 30,000 |
| نور لګښتونه | 30,000 |
| د مجرایې وړ د لګښتونو مجموعه | 300,000 افغانۍ |

د پورته تشریح مطابق زبیر رهنمايي معاملاتو د 1402 کال په جریان کي 1,700,000 افغانۍ ناخالص عواید په لاس راوړي دي، ددې له پاره، چي د هغه خالص عواید معلوم کړو، د ناخالصو عوایدو څخه ئي لګښتونه منفي کوو.

| **په مالي کال کي د مالیې تابع عواید** | | **د مالیې تابع مبلغ** | **د مالیې نورم** | **د مالیې مبلغ** |
|---|---|---|---|---|
| **له** | **تر** | | | |
| 0 | 60,000 | 60,000 | 0% | 0 |
| 60,001 | 150,000 | 90,000 | 2% | 1,800 |
| 150,001 | 1,200,000 | 1,050,000 | | 106,800 |
| **له 1,200,000 افغانیو څخه پورته** | | **200,000** | **پر (106,800) ثابتو افغانیو سربېره 20%** | **146,800** |
| **د تادیې وړ مالیې مجموعه** | | **146,800 افغانۍ** | | |

**تبصره:** زبیر رهنمايي معاملات مکلف دئ، چي د 1402 کال په پای کي د حقیقي اشخاصو د مالیې د نورم مطابق په پورتني ډول له ذکر سوي معافیت څخه وروسته 146,800 افغانۍ پر عایداتو باندي مالیه ورکړي.

**یادونه:** دا چي د زبیر رهنمايي معاملاتو د یوې ربعي عواید له 750000 څخه کم دي، نو څکه د انتفاعي مالیې موضوع نه مطرح کیږي.

**یادونه:** د ټولو حقیقي اشخاصو مالیه په پورته ډول سنجول کیږي، هر حقیقي شخص مختلف لګښتونه لري، چې د اسنادو پر بنسټ ئې مجرایي ورکول کیږي او د قانوني لګښتونو تر مجرایي وروسته ئې د عایداتو له خالصې ګټې څخه مالیه اخیستل کیږي. هر کله چې حقیقي شخص په یوه ربعه کې 750,000 افغانۍ او یا له هغو څخه ډېر عواید په لاس راوړي؛ نو د 4% انتفاعي مالیې تابع کیږي، چې د کال په پای کې ئې د لګښت په ډول مجرایي ورکول کیږي.

**نوټ:** هغه اشخاص چې د جایداد د کرایې له درکه عواید لاسته راوړي د ناخالصو عوایدو له مجموعې څخه یې صرف 10% د لګښت په ډول مجرایي ورکول کیږي.

## د حکمي شخص پر عایداتو باندې د مالیاتو سنجش

**مثال:** د احمد تجارتي شرکت چې یو حکمي شخص دئ، په 1402 کال کې ئې د 3,800,000 افغانیو په ارزښت اموال د خرڅ په موخه له خارج څخه وارد کړي دي او د 1402 کال په جریان کې ئې یاد اموال په 5,000,000 افغانۍ خرڅ کړي دي، د مجرایي وړ لګښتونو په پام کې نیولو او د اسنادو پر بنسټ ئې پر عایداتو باندې مالیه په لاندې ډول سنجول کیږي:

**یادونه:** حکمي اشخاص چې ربعواره انتفاعي مالیه تأدیه کوي، د مالي کال په آخر کې ئې د مصرف په توګه مجرایي ورکول کیږي.

| | |
|---|---|
| د اموالو د رانیولو بیه | 3,800,000 |
| د اموالو د خرڅ بیه | 5,000,000 |
| د دې له پاره چې ناخالصه ګټه معلومه کړو، د اموالو د خرڅ له بیې څخه د اموالو د رانیولو بیه منفي کوو. 5,000,000 - 3,800,000 = 1,200,000 | |
| **د مثبتو اسنادو پر بنسټ د مجرایي وړ کلني لګښتونه** | |
| تجارتي اعلانونه | 25,000 افغانۍ |
| 4% انتفاعي ورکړل سوې مالیه | 200,000 افغانۍ |
| ټرانسپورټي لګښتونه | 50,000 افغانۍ |
| د منقولي او غیرمنقولي شتمنۍ استهلاک | 75,000 افغانۍ |
| اداري لګښتونه | 45,000 افغانۍ |
| معاشونه او دستمزدونه | 220,000 افغانۍ |
| نور لګښتونه ( ټیلیفون،برېښنا، او.. ) | 53,000 افغانۍ |
| د لګښتونو مجموعه | 668,000 افغانۍ |

د خالصې ګټې د لاسته راوړلو له پاره له 1,200,000 افغانیو ناخالصې ګټې څخه 668,000 افغانۍ د مجرایي وړ کلنیو لګښتونو مجموعه منفي کوو. 1,200,000 - 668,000 = 532,000

پر عایداتو باندي د مالیاتو د سنجش له پاره د شرکت خالصه ګټه په 20% کي ضربوو.

532,000 x 20% = 106,400

د احمد تجارتي شرکت پر کلنیو عایداتو باندي مالیه په 1402 کال کي 106,400 افغانۍ کیږي او شرکت مکلف دئ، چي یاده مالیه د را وروسته کال د جوزا د میاشتي تر پایه د امارت د عوایدو بانکي حساب ته تحویل کړي.

## موضوعي مالیه

**موضوعي مالیه:** عبارت له هغه مالیي څخه ده، چي مالیه ورکوونکي ته د پیسو د تادیه کوونکي په ذریعه وضع او د امارت د عوایدو بانکي حساب ته تحویلیږي.

| د موضوعي مالیې د نورم جدول | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شمېره | ډولونه | تشریح | نورم | د ورکړي موده |
| 1 | د معاشونو میاشتنۍ موضوعي مالیه | له 0 څخه تر 5,000 افغانیو پوري؛<br>له 5,001 افغانۍ څخه تر 12,500 افغانیو پوري؛<br>له 12,501 افغانۍ څخه تر 100,000 افغانیو پوري؛<br>له 100,000 افغانیو څخه پورته. | 0%<br>2%<br>10%<br>20% | د راتلونکي میاشتي تر 10 نېټي پوري. |
| 2 | د هغو جایدادونو موضوعي مالیه چي د تجارتي او اقتصادي فعالیتونو په موخه په کرایه ورکول کیږي | په هغه صورت کي؛ چي میاشتنۍ کرایه له 10,000 افغانیوڅخه کمه وي، د موضوعي مالیې تابع نه ده؛<br>که میاشتنۍ کرایه له 10,000 افغانیو څخه تر 100,000 افغانیو پوري وي؛<br>که میاشتنۍ کرایه له 100,000 څخه پورته وي. | 0%<br>10%<br>15% | له قرارداد سره سم د راتلونکي میاشتي تر 15 نېټي پوري. |
| 3 | پر قراردادونو باندي موضوعي مالیه | په هغه صورت کي، چي جواز نه لرونکي اشخاص د اجناسو رسولو یا د خدمتونو برابرولو قرارداد د صنعتي، تجارتي او زراعتي سکتورونو پرته له نورو سکتورونو سره وکړي. | 7% | له قرارداد سره سم د راتلونکي میاشتي تر 10 نېټي پوري. |
| | | په هغه صورت کي، چي جواز لرونکي اشخاص د اجناسو رسولو یا د خدمتونو برابرولو قرارداد له نورو اشخاصو سره وکړي او یا د مالي کال په جریان کي له یوې واحدي منبع څخه په پرچون ډول له 500.000 افغانیو څخه زیاته خریداري وکړي. | 2% | |
| 4 | د ونډي د ګټي، حق الامتیاز، مکافاتو او بخششیو موضوعي مالیه | د ونډي د ګټي، حق الامتیاز، مکافاتو او بخششیو موضوعي مالیه د تادیه کوونکي له خوا وضع کیږي. | 20% | د راتلونکي میاشتي تر 10 نېټي پوري. |

**مثال:** احمد په میاشت کې 110،000 افغانۍ معاش لاسته راوړي؛ چې د هغه د معاش موضوعي مالیه په لاندې ډول سنجول کیږي.

| د احمد د میاشتني معاش د موضوعي مالیې د سنجش جدول | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **شمېره** | **د معاش اندازه** | **د مالیې تابع مبلغ** | **د میاشتنۍ مالیې نورم** | **د ورکړې وړ مالیه** |
| **1** | تر 5,000 افغانیو پورې | 5,000 | 0% | 0 |
| **2** | له 5,001 افغانۍ څخه تر 12,500 افغانیو پورې | 7,500 | 2% | 150 |
| **3** | له 12,501 افغانۍ څخه تر 100,000 افغانیو پورې | 87,500 | پر 150 افغانیو سربېره 10% | 8,900 |
| **4** | له 100,000 څخه پورته | 10,000 | 8,900 ثابتو افغانیو سر بېره 20% | 10,900 |
| | | **د ورکړې وړ مالیې مجموعه** | | **10,900** |

**تبصره:** یاد شخص له خپل میاشتني معاش څخه 5,000 افغانۍ معافیت لري، چې 7,500 افغانۍ ئې د 2%، 87,500 افغانۍ ئې د 10% او 10,000 افغانۍ ئې د 20% مالیې تابع کیږي؛ چې د 2%، 10% او 20% مالیې مجموعه ئې 10,900 افغانۍ کیږي.

## پر کرایه باندې موضوعي مالیه

که چیرې د جایداد میاشتنۍ کرایه له 10,000 افغانیو څخه کمه وي موضوعي مالیه ئې نه مطرح کیږي. هغه جایدادونه؛ چې میاشتنۍ کرایه ئې له 10,000 څخه تر 100,000 افغانیو پورې وي د 10% موضوعي مالیې تابع کیږي او هغه جایدادونه؛ چې میاشتنۍ کرایه ئې له 100,000 افغانیو څخه زیاته وي، د 15% موضوعي مالیې تابع کیږي.

**مثال:** احمد یو باب دوکان د خپل کاري دفتر لپاره د میاشتي په 20,000 افغانۍ په کرایه نیولی دئ، د هغه پر کرایې د موضوعي مالیې سنجش په لاندي ډول ترسره کیږي.

20,000X 10% =2,000

**مثال:** (الف) شفاخاني یو تعمیر د میاشتي په 120,000 افغانۍ په کرایه نیولی دئ، پر کرایه باندي ئې موضوعي مالیه په لاندي ډول سنجول کیږي:

120,000X 15% =18,000

**یادونه:** که چیري یو جایداد د اقتصادي فعالیت په موخه په کرایه ورکول سوی وي او میاشتنۍ کرایه ئې 10,000 افغانۍ او یا هم له دې څخه پورته وي نو ټول مبلغ ئې د مالیې تابع گرځي.

**تبصره:** (الف) شفاخانه او احمد مکلف دي، چي وضع سوې مالیه د راتلونکي میاشتي تر 15 نېټې پوري د امارت د عوایدو بانکي حساب ته تحویل کړي. همدارنگه پورته موضوعي مالیه د جایداد د مالک پر عایداتو باندي د مالیاتو مخکي ورکړه ده، د جایداد مالک مکلف دئ، چي د خپلو کرایوي عوایدو مالیاتي اظهارپاڼې د کال په پای کي وړاندي کړي او پر خپلو عایداتو باندي مالیات تصفیه کړي.

## د قراردادونو موضوعي مالیه

د تجارتي، زراعتي او صنعتي سکتورونو څخه بغیر هغه اشخاص چي جواز ونه لري او له نورو اشخاصو سره د اجناسو رسولو یا د خدمتونو برابرولو قرارداد وکړي، پر عایداتو باندي د مالیاتو په عوض کي د (7%) ثابتي مالیې پر ورکړه مکلف دي.

که چیري جواز لرونکي اشخاص د اجناسو په رسولو او یا خدمتونو برابرولو کي له نورو اشخاصو سره قرار داد وکړي د (2%) قراردادي موضوعي مالیې تابع گرځي؛ یاده مالیه مخکي ورکړه ده او په نورو مالیاتي مکلفیتونو کي ئې د مجرایي وړ ده.

**لومړی مثال:** کریم چي یو جواز نه لرونکی شخص دئ، د یو ښوونځی د جوړولو قرارداد ئې له پوهني وزارت سره په 500,000 افغانۍ کړی دئ، د نوموړي شخص موضوعي قراردادي مالیه په لاندي ډول سنجول کیږي: 500,000X 7% =35,000

**تبصره:** په پورته مثال کي د پوهني وزارت مکلف دئ، چي د پیسو د حوالې د اجراء کولو پر مهال قراردادي موضوعي مالیه وضع کړي او د راتلونکي میاشتي تر لسمي نېټې پوري ئې د امارت د عوایدو بانکي حساب ته تحویل کړي.

**یادونه:** په ذکر سوي مثال کي که چیري قراداد له جواز لرونکي شخص سره ترسره سي، نو د 2% مالیې تابع کیږي.



# رهنمود مالیات افغانستان

## هموطنان گرامی!

هر افغانی مالیه شما بخاطر آبادی این کشور به مصرف می رسد، پس مالیه خویش را به اسرع وقت به بیت المال تحویل نماید!

ARD.GOV.AF ARDAfghanistan 1000

# مقـــدمه

**بسم الله الرحمن الرحیم**

الحمد لله رب العالـمین وصلاته علی سیدنا محمد وعلی آله وأصحابه أجمعین

امابعد:

مالیات در تمویل بودجه ملی امارت اسلامی افغانستان نقش بارز دارد، که جمع آوری آن به شکل شفاف از طریق سیستم در مرکز و ولایات مسؤلیت ریاست عمومی عواید است. این وظیفه را ریاست عمومی عواید در مرکز به وسیله ریاست های مرکزی عملیاتی و در ولایات توسط آمریت های عواید مستوفیت ها انجام می دهد، که لله الحمد از وقت فتح امارت اسلامی الی اکنون عواید به شکل درست جمع آوری و بودیجه ملی تمویل می شود.

ریاست عمومی عواید بر اساس مسئولیت کاری خویش همیشه تلاش می نماید تا جهت بهبود جمع‌آوری عواید به کارمندان ادارات مالیاتی و تمام مالیه دهندگان آگاهی کامل در مورد مالیات ارایه نماید، که در این بخش سمینار های آگاهی دهی و برنامه های مسلکی جداگانه برگزار نموده و در حال دایر نمودن چنین برنامه ها می باشد. همچنان ریاست عمومی عواید بمنظور آگاهی دهی انواع مختلف مواد چاپي را چاپ می نماید. (رهنمود مالیات افغانستان) که کارکنان اداره مالیاتی و مالیه دهنده گان را در مورد مالیات آگاه می‌سازد، یک نمونه برجسته در زمینه بیان مالیات می‌باشد.

